ACKU
S 1789

SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

څلورم کال دري شپېتمه گڼه پرله پسې (۲۵۳) يکشنبه د ۱۴۲۰ هـ ق کال د جمادي الاول (۱۸) د ۱۳۷۸ هـ ش کال د وږي دمياشتې (۷) د ۱۹۹۹ ميلادي کال د اگست (۲۹)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدې دی تقوا (پرهيزگاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

د ارزگان په ولايت کې :

۵ جريبه ځمکه د بنگو له بوټونه پاکه شوه

په خوست کې ۱۵ کيلو گرامه چرس کشف شول

د ارزگان ولايت په مربوطاتو کې د پنځه جريبه ځمکې ساحه په دې وروستيو وختو کې د بنگو له بوټونه پاکه شوه .

د ترين کوټ له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د ارزگان ولايت د امر با المعروف و نهي عن المنکر رياست د منسوبينو د هڅو او هاند او د اړونده سيمې د خلکو د گډو هلو ځلو له امله د دوه جريبه ځمکې ساحه د ارزگان ولايت د بلوچي په کلي کې يو جريب ځمکې ساحه د توري په کلي کې او د دوه جريبه ځمکې ساحه ددغه ولايت د چار چينو په مربوطاتو کې د بنگو له بوټو نه پاکې شوي او ددغو سيمو خلک د بنگو د بوټو ناوړو ضررونو او ناوانونو ته متوجه کړای شول .

د يو بل خبر له مخي ۱۵ کيلو گرامه چرس چې د خوست ولايت د امر با المعروف د موظفينو لخوا په دې وروستيو وختو کې ددغه ولايت د اسماعيل خيلو او مندوزيو د ٤ مخ

محترم معاون شوراي سرپرست طي ملاقات با رئيس کمشنري عالي ملل متحد در امور مهاجرين؛

هر تبعهٔ خارجي که بطور قانوني به کشور ما مي آيد تأمين امنيت و حفظ سر و مال وي به عهده امارت اسلامي مي باشد

کارمندان مؤسسات بين المللي بايد با در نظر داشت اصول بين المللي، قوانين نافذهٔ کشور ما را رعايت و احترام نمايند

محترم مولوي عبدالکبير معاون شوراي سرپرست و رئيس تنظيمه زون شرق ديروز در دفتر کار شان در جلال آباد محترم نبيل مکي رئيس کميشنري عالي ملل متحد در امور مهاجرين و همچنان مسؤول جديد التقرر بخش امنيت سازمان ملل متحد در جلال آباد را غرض ملاقات بحضور پذيرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در آغاز اين ملاقات محترم مسؤول جديد بخش امنيت سازمان ملل متحد در جلال آباد معرفي گرديده و در رابطه به مسايل مربوط بحث و تبادل نظر صورت گرفت .

سپس محترم معاون شوراي سرپرست از تامين امنيت مطمين به مسؤولين سازمان ملل متحد اطمينان داده و گفت: با تامين امنيت مطمين در زون شرق زمينه کار و فعاليت براي کارمندان موسسات خيريه مساعد گرديده و به اساس اصول اسلامي هر تبعه خارجي که بطور قانوني به کشور ما مي آيد تامين امنيت و حفظ سر و مال وي به عهده امارت اسلامي مي باشد .

امارت اسلامي با در نظرداشت اصول اسلامي تامين امنيت و فراهم آوري زمينه کار و فعاليت براي آنها را وظيفه خود ميداند و کارمندان موسسات بين المللي هم بايد با در نظرداشت اصول بين المللي قوانين نافذه کشور ما را رعايت و احترام نمايند.

بالمقابل مسؤولين متذکره از اقدامات نيک امارت اسلامي و تامين امنيت کامل قدرداني نموده و تعهد نمودند که در تفاهم با مسؤولين امارت اسلامي عمل نموده و اجراات و فعاليت هاي خويش را با در نظر داشت قوانين نافذه امارت اسلامي تنظيم خواهيم نمود.

د اي سي ار سي کميټه د کرنې له وزارت سره يو لړ پروگرامونه تر اجرا لاندې نيسي

د آي.سي.آر.سي کميټه په پام کې لري چې د کرنې او مالدارۍ په بېلا بېلو برخو کې د کرنې له وزارت سره گډ پروگرامونه تر اجرا لاندې ونيسي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغې کتنه کې چې د کرنې وزارت سرپرست محترم ملا عبداللطيف منصور د آي. سي. آر. سي کميټې د بشري مرستو له ناظم سره وکړه په دې ترڅ کې چې د علاقي دړ ٤ مخ

د هلمند په ولايت کې په يو تن قاتل باندې الهي حکم عملي شو

د هلمند ولايت د موسى کلا په ولسوالۍ کې پرون په عام محضر کې په يو تن قاتل باندې الهي حکم عملي شو

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د هلمند ولايت د موسى کلا ولسوالۍ د شورا په اوسيدونکي عبدالخالق د محمد رحيم زوی چې دري کاله مخکې بې محمد د لالي زوی وژلی و د امنيتي موظفينو لخوا له نيولو او د دوی گونو محکمو له ريکړې او د عاليقدر اميرالمؤمنين له تائيد وروسته پرون له غرمې مخکې د موسى کلا په ولسوالۍ کې په عام محضر کې د قصاص الهي حکم ورباندې تطبيق شو.

په هغې غونډه کې چې له ٤ مخ

در وزارت شهداء و مهاجرين :

سيمينار آموزشي کورسهاي داخل خدمت تدوير يافت

سيمينار آموزشي کورسهاي داخل خدمت ديروز در تالار کنفرانس هاي عقيدتي و سياسي وزارت شهداء و مهاجرين تدوير يافت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در اين سيمينار بعد از آنکه آياتي چند از کلام الله مجيد قرائت گرديد محترم الحاج مولوي عبدالرقيب در رابطه به اهميت تدوير چنين سيمينار ها صحبت نموده کارمندان شامل سيمينار را متوجه مسؤوليت ها و وجايب شان ساخت .

در اين سيمينار موضوعات اداري و حسابي، قرآن و اصول نامه ها طي کورسهاي آموزشي توسط سه تن از آموزگاران محترم پيش برده ص ٤

د تاله او برفک د کانالونو د کيندنې او پاکولو کار بشپړ شو

د بغلان ولايت د تاله او برفک ولسوالۍ د کانالونو د کيندنې او پاکولو او د سيلبرونو د بيا جوړولو کار بشپړ شو .

د بغلان له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هېواد کې د عام المنفعه تاسيساتو د بيا جوړونې او رغاونې د کار په دوام په دې وروستيو وختو کې د بغلان ولايت د تاله او برفک ولسوالۍ د طوطي برفک سيمې د کانالونو د کيندنې او پاکولو او د سيلبرونو د بيا جوړونې کار چې د بغلان ولايت د کليو د بيا جوړونې او پراختيا د اداري لخوا د اکسفام ٤ مخ

د عامه کتابتون رئيس له شريعت اوونيزې سره په مرکه کې :

هغه کتابونه چې په تير فاسد رژيم کې په ښار کې پلورل شوي و بيرته د عامه کتابتون له خوا راټول او د هيواد والو د استفادې وړ وگرځېدل

پوښتنه: په عمومي توگه د عامه کتابتون دتاسيس په هکله معلومات راکړئ !

ځواب: عامه کتابتون په ۱۳۴۵ ش کال کې تاسيس شوی دی په دې کتابتون کې برسيره پر ديني کتابونو تاريخي، ټولنيز، ساينسي، ادبي او داسې نور کتابونه په خورازيات شمېر موجود دي چې په مختلفو ژبو ليکل شوي دي اوريات شمېر لوستونکي هم لري.

پوښتنه: فعلاً څو کتابتونونه لري او څه شمېر کتابونه پکې موجود دي ؟ ٤ مخ

د سرپل په ولايت کې :

د آريانا د فوتبال ټيم لومړی مقام وگاټه

د فتبال د تورنمنت په هغو لوبو کې چې په دې وروستيو وختو کې د سرپل ولايت د فتبال د ټيمونو تر منځ پيل شوي وې د آريانا د فتبال ټيم د ۱۶ امتيازونو په تر لاسه کولو سره لومړی مقام وگاټه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دغو لوبو کې چې په دې ورستيو وختو کې د سرپل ښاروالۍ په ورزشي چمن کې وشوې د آريانا ٤ مخ

طي جلسه کميسون ثبت و راجستر (ان.جي.او) ها :

براي يازده موسسه خيريه داخلي و خارجي اجازه فعاليت داده شد

کميسون ثبت و راجستر موسسات خيريه غير حکومتي داخلي و خارجي ديروز طي جلسه براي يازده مؤسسه خيريه اجازه فعاليت را دادند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : طي جلسه که تحت رياست محترم الحاج محمد موسي «هوتک» معين وزارت پلان و به اشتراک اعضاي با صلاحيت وزارت خانه هاي ذيربط در مقر آن وزارت داير گرديده بعد از مطالعه دقيق اسناد به موسسه احياء و اعمار مجدد براي افغان، مؤسسه امداد براي آبادي دو باره افغانستان، مؤسسه باز سازي افغان، موسسه ساختماني احياي ص ٤

خيرخانه مينې د ولس زړه ته اوسيدونکي د څښاک له روغتيايي اوبو څخه برخمن شول

د پنځه ويشتو څاگانو په کيندلو سره د کابل ښاروالۍ د پنځلسمې ناحيې مربوط د خيرخانې مينې د دريمې برخې د ولس زړه ته اوسيدونکي د څښاک له روغتيايي اوبو نه برخمن شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د افغانستان د اسلامي امارت د نيکو او ٤ مخ

د روسيې د جمهور رئيس دوستان د نړيوال وجهي صندوق په پيسو مزې چړچې کوي

د روسيې د جمهور رئيس بوريس يلتسين ته نږدې کسانو لخوا په نړيوالو پيسو باندې د مزو چړچو د کولو پېښې د امريکا د متحده ايالاتو او د انگلستان د هيوادونو محکمې ديته اړ کړېدي چې په دې باب څېړنې ٤ مخ

د کابل د وړيو او بدلو فابريکې ماشينونه بيا ترميم او د بريښنا بهير به يې هم ډير ژر تامين شي

د کابل وړيو اوبدلو فابريکې محترم رئيس

شريعت: د کانو او صنايعو وزارت د وړيو اوبدلو فابريکه د څرخي پله په صنعتي سيمه کې د سره جنگونو له وجې زيانمنه شوېده اوس چې د هيواد په ۹۵ برخه کې د طالبانو د اسلامي تحريک په راتللو سره پوره امنيت ټينگ شوی او د صنعتي تاسيساتو د بيا رغونې کار ونه پيل شوي او د مو غوښتل د نوموړې فابريکې د رئيس محترم ملا فضل الربي اخند څخه د هغوی د فعاليت په هکله معلومات تر لاسه کړو چې دادی ستاسې توجه ورته را اړوو .

لومړی مو له محترم ملا فضل الربي څخه ددې فابريکې د تاريخچې په هکله پوښتنه وکړه. هغه داسې معلومات راکړل د څرخي پله د وړيو اوبدلو فابريکه په کال ۱۳۴۳ کې د فدرال المان دولت لخوا تاسيس شوه چې په کال ۱۳۵۳ کې بې د دولت د اقتصادي تصدۍ په توگه د کانو او صنايعو وزارت په چوکاټ کې په فعاليت شروع وکړه نو وړې فابريکه په څلورو اساسي ص ٤

ملگرو ملتونو ته ښايي چې يو اړخيز قضاوت ونکړي

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د خبري سرچينو په حواله د ملگرو ملتونو د امينت په شورا کې يو ځل بيا د افغانستان په اسلامي امارت باندې ځيني تورونه لگيدلي چې له واقعيت سره هيڅ تړاو نلري او د افغانستان د چارو هر څېړونکی به خامخا د حيرانتيا په سمندر کې ډوب کړي، په دغو نيوکو کې د افغانستان اسلامي امارت د شمالي په سيمو کې له کورونو څخه د خلکو په کډه کولو تورن شوی دی او عجيبه لا داده چې دوی په خپله اعتراف کوي چې نوموړي مهاجرين د کابل او کندوز ولايتونو ته ځي ، همدارنگه دا خبره هم شوې چې هره ورځ د يو سل و پنځوسو کورنيو په شاوخوا کې خلک له شمالي څخه کډې کوي.

که د ملگرو ملتونو د امنيت شورې نومړې نيوکې او د افغانستان تيرو څو کلونو پيښو ته په ريښتين او بې پرې سترگه وکتل شي نو هر قضاوت ۲ مخ

کالبرت نماينده سازمان ملل متحد :

بدون اصلاحات اقتصادي و سياسي مناطق بحران زده کاسوا را نمي توان باز سازي نمود

کالبرت نماينده سازمان ملل متحد در امور ايالت کوسوا به اين عقيده است که بدون اصلاحات اقتصادي و سياسي مناطق بحران زده را نمي توان باز سازي نمود.

موصوف گفته است: بخصوص اگر براي جوانان امکان دستيابي به ص ٤

رئيس جمهور قرغزستان وزارت دفاع آنکشور را مسؤول بي ثباتي و بي امنيتي اخير خوانده

رئيس جمهور قرغزستان با صدور فرماني وزارت دفاع آنکشور را مسؤول بي ثباتي و بي امنيتي اخير در شهر بادکن قرغزستان خواند.

شهر بادکن که در جنوب قرغزستان و در مجاورت سرحد تاجکستان و ازبکستان موقعيت دارد از چند هفته به اين طرف صحنه حضور گروه هاي مخالف ص ٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

کورنکی به د ملګرو ملتونو دغه بی ځایه نیوکی په کلکه وغندی او هغه به یو اړخیزه قضاوت وبولی.

که ملګری ملتونه په رښتیا د دغو مهاجرینو په هکله په اصطلاح په تشویش کی وی نو لږ خودی هغه وخت هم ور په یاد کړی چی ربانیٌ د خپلی واکمنی په موده کی د کابل ښار دری پر څلورو برخو په کنډوالو بدل کړ، د کابل ښار په لکونو اوسیدونکی یی د خپلو کورونو پریښودو او نورو ولایتونو یا بهر ته په هجرت مجبور کړل او څه د پاسه شپیته زره تنه د کابل ښاریان یی شهیدان کړل!! هغه وخت ولی ملګرو ملتونو خپله خوله ترلی وه او هیڅ یی هم نه ویل چی اوس یی تشویش ؟!! څرګند کړی؟ ملګرو ملتونو خو د ربانی هماغه حکومت ته هم په رسمی بڼه کتل او هغه یی د افغانستان قانونی حکومت باله!! هغه وخت ولی ملګرو ملتونو د تشویش اظهار نه کاوه، مګر د کابل ځوریدلی اولس په خپلو کورونو کی د اوسیدو حق نه درلود، او یا هغوی د بشری ټولنی غړی نه و چی پوښتنه یی شوی وای؟ د ربانی بل انډیوال دوستم چی په شمال کی د خپلی واکمنی په موده کی د بادغیس ولایت ټول اوسیدونکی هجرت ته مجبور کړل، د هغوی کورونه یی په توپونو ونړول او شتمنی یی ورته لوټ کړی، هغه مهال ملګرو ملتونو ولی د ننداړچی حیثیت خپل کړی وو او د مسوولیت او غمرازی احساس یی نه کاوه؟

همدارنګه کله چی د ربانی د ائتلافی ډلګی ملیشو د تخار ولایت د اشکمش د ولسوالی او د بغلان ولایت د نهرین او بورکی د ولسوالیو او شاوخوا سیمو د خلکو کورونه د اسلامی امارت د ملاتړ په جرم وسوځول، په زرها و تنه یی شهیدان او مالونه یی لوټ کړل نو ملګری ملتونه چیرته مصروف وو چی له هیڅ څخه هم نه خبریدل؟ ددی تر څنګ ملګرو ملتونو خو د دوستمی ملیشو په لاس د بلخ، فاریاب او حینو نورو شمالی ولایتونو د خلکو ډله ایزه وژنه، له خپلو کورونو څخه د هغوی جبری شړل او د هغوی په جایدادونو باندی د ملیشو خیټه اچول په ړنو سترګو کتل، مګر هغه وخت څه دلیل وو چی ملګری ملتونه دی هیڅ هم ونه وایی او لا دی هم د ربانی د ائتلافی اداری په قانونیتوب ټینګار وکړی؟!

ټول افغانان او د سیمی بهرنی کتونکی شاهدان دی چی هغه مهال په لکهاو خلکو د ملیشو د ظلم له کبله خپل کورونه پریښودل، حلته چی د لکهاو انسانانو د ژوند خبره وه ملګرو ملتونو هیڅ نه ویل، او اوس چی د دوی په ادعا د یو نیم سل کورنیو د مهاجرت مسئله ده دومره وارخطایی او تشویش ښکاروی دا د څه لپاره ؟!! چی د عقل هر څښتن د ملګرو ملتونو دی خبری ته حیر شی چی نوموړی کورنی د کابل او کندوز ولایتونو ته کډه کوی، د ملګرو ملتونو یو اړخیز او نا صحیح قضاوت نور هم بربنډ کیږی او د افغانستان پر اسلامی امارت باندی د شمالی د خلکو د کډه کولو تور په خپله غلط ثابتیږی دا ځکه چی که د شمالی پر خلکو د اسلامی امارت له اړخه زیاتی شوی وای نو هغوی به هیڅکله هم نه و حاضر شوی چی د اسلامی امارت تر واکمنی لاندی سیمو ته لاړ شی، که وواېو چی د اسلامی امارت لخوا لیږدول شوی نو دا خو هم صحیح نه ده ځکه چی د کندز ولایت له دی سیمی څخه ډیر واټن لری او تر هغه ځایه ددغو کورنیو جبری لیږدول ناشونی کار دی او له عقله هم لیری خبره ده !! حقیقت دا دی چی اسلامی امارت د ټولو افغانانو د سرمال او ناموس ساتنه خپله وجیبه بولی او ددی وجیبی د سرته رسولو په خاطر هر راز سر ښندنی ته چمتو والی لری، د شمالی د مسلمانو خلکو د سر، مال او ناموس د ساتنی په خاطر یی ډیری ستونزی وزغملی او اوس هم ددغو خلکو د ساتنی او هوساینی لپاره لګیا دی هلی ځلی کوی او د هغوی په خوښه په آرامو سیمو کی د ژوند وسایل ورته برابروی او هغوی د جګړی له ناوړه اغیزو څخه خوندی ساتی. ښایی چی د ملګرو ملتونو واکمنان خپلو ورووستیو خبرو ته حیر شی او په داسی تورونو چی له واقعیتونو او د سلیم عقل له تحلیل سره سمون نه خوری، خپله بیطرفی لا زیاتونه زیانمنه نه کړی.

ژمنه له چا سره ؟

پتې پاڼې

شهرت ننګیال

مطبوعاتو د ښاغلی ربانی یو بل شرم را پورته کړی، یو بل سند یی را مخی ته کړی او له یوی بلی رسوایی یی پرده پورته کړی ده. سړی نه پوهیږی دغی دوسیی ته څه نوم ورکړی، نه پکه دا دی لا بله سپکه ددغی رسوایی تعبیر کیدای شی او نه شرم می کوت بیخ می خوت.

ښایی ربانی صاحب دا هم خپله یوه کارنامه او دیپلوماتیک اعجاز وګڼی دی چی پر خپل هیواد د امریکایی کروز توغندیو د برید په هر کلی او ملاتړ نه شرمیږی، چی د بدخشان په سمڅو کی د واکمنی پر ادعا نه زهیریږی او چی د کابل په لوټ تالان یی څه چورت نه خرابیږی او بیا هم د اقتدار په خوبونو پسی لالهانده دی له یهود بارک سره اړیکی ټینګیدل خو دی ورته د وخته مبارک وی ده پر دی ټولو پولو پل اړولی تر دی چی یو ځل بی هو یهود بیرک کارمل هغه تکراری خبره نه پوهیږم د څو وم ځل لپاره تکرار کړه، هغه خبره چی کارمل به د شوروی لښکرو د ټیری د توجیه کولو لپاره په ډیر طمطراق تکراروله. د ملګرو ملتونو د منشور د ۵۱ مادی خبره چی حق لری د کوم بهرنی هیواد پوځونو ته بلنه ورکړی چی راشی دده د لړزیدلی او نړیدلی تخت پښی ټینګی کړی!!

اوس اوس مطبوعاتو ته د ښاغلی ربانی د هغه فاکس متن ګوتو ته ورغلی چی د اسرائیلو د نوی صدراعظم یهود بارک په نوم یی تل ابیب ته مخابره کړی، که څه هم لس میاشتی د مخه د اسرائیلو له پخوانی صدراعظم نتن یاهو سره هم ښاغلی ربانی په جرمنی کی کتلی وو خو له یهود بارک سره یی په نویو رازونو خبری کړی او د نوی یارانی مزی یی ورسره غزولی دی.

ښاغلی ربانی په خپل تلګرام کی له یهود بارک سره دا پخه ژمنه کړی که چیرې چی کــه څوک دامی پیدا شول چی ده ته یی کابل ونیو او دی یی پر دغه سر خوړلی تخت کیناوه نو هغوی به وګوری چی له شاه شجاع او ببرک کارمل نه هم ډیر لاړ کی ډیر وفادار دی، په تیره متحده ایالات چی له ځانه پر اسرائیلو ډیر خوشحالیږی او همدا خوشالی د ښاغلی ربانی د زړه مراد ګڼلی شی.

ښاغلی ربانی به اسرائیلو، امریکی او نورو لوریو ته دا ډول ډیری وعدی ورکړی وی چی که کابل یی ونیو، د هغوی حکم به وی او دده منل خبره دا ده چی ربانی صاحب به افغانانو په تیره وخوری. خبره د خپلو خلکو ده چی ربانی صاحب به هغوی ته د کابل په نیولو څه ډول پیغام ورواندی کوی او څه ژمنی به ورسره تازه کوی. سیاستوال او د حکومتونو مدعیان خپلو خلکو ته د خدمت وعدی او پروګرامونه وړاندی کوی خو استاد ربانی خپل دومره ځپلی چی نور وعدو او ژمنو ته څه ځای نه دی پاتی ځکه خو یی د بهرنیو اړخونو لمن نیولی او د کابل تخت د امریکی او اسرائیلو په خوشالی کی لټوی. ښاغلی ربانی به اسرائیل، ایران، تاجکستان، ازبکستان، امریکی او نورو اړخونو ته د سفارتونو او قونسلګریو ټیټروهی او دوه اسرای په سطحه به د هغوی حکم او ځانی منی خو افغانانو ته هم د کومی ژمنی او وعدی مخ او سترګی لری که څنګه!

که ده ددی مخ او سترګی لرلی نو ضرور به یی له خلکو او ولس سره پر خدمت او وعدو ټکر کړی و نه له اسرائیلو او امریکا سره.

له دی ښکاری چی ښاغلی ربانی او مسعود له بهرنیو هیوادونو او لوریو سره په ژمنو او وفاداری کی ښه تکړه او پر دغه ازمیښت کی پوره بریالی دی ځکه خو هغه خپلو خلکو اولس ته د ژمنو او وعدو پر ځای اسرائیلو او نورو اړخونو ته د وعدو بازار تود کړی دی. خو کابل که نورو نیولی او ساتلی شوای پخوانی شوروی اتحاد به ببرک کارمل ته ساتلی و، لیری نه خپله ښاغلی ربانی او مسعود ته به یی ساتلی و او اوس به غرونو او غاړونو ته نه اړکیدل.

له کابلیانو سره څه ژمنی کوی؟ هغوی ته به دا وعده ورکوی چی که کابل یی ونیو نو دغه پاتی کنډوالی به یی هم لوټه لوټه کړی، دا څه چی پاتی دی پر دی به هم چور تالان ګډ کړی، یو ځل بیا به کوڅه واکی پیل شی، په څلور لارو کی به پوستی او سنګرونه جوړ شی، بیا به بیلا بیلی جنګی ډلی د ښار په یوه او بله برخه کی ښکر په ښکر شی او د عصمتونو او عفتونو د لیلام مارکیټونه به پرانیستل شی.

له اسرائیلو سره دغی وعدی دی سر ی بیا کابل ونیو، نو په مزار، ننګرهار او هرات کی به د اسرائیلو قونسلګریو او په کابل کی سفارت ته دفترونه ورکړی او تجارتی او فرهنګی اړیکی به ورسره پیل کړی.

خو ددغه ژمنی تر شاه د ښاغلی ربانی هغه توقعات پراته دی چی له اسرائیلو یی د کابل په نیولو کی لرلی او څرګند کړی دی. استاد ربانی به دا ډول ژمنی خدای خبر له څومره نورو هیوادونو او لوریو سره کړی وی

د افغانستان د خپلواکی بیرته اخستلو د (۸۰) یمی کلیزی په مناسبت د چارو عمومی اداری مرستیال محترم ملا محمد حسین مستسعد بیانیه

نیته ۸/۵/۱۴۲۰ هجری قمری ۲۸/۵/۱۳۷۸ هجری شمسی کابل - افغانستان

پرلپسې

د افغانستان د خپلواکی په ګټلو کی د علماو لارښونه او د هغوی اثرات

د هغوی له جملی څخه ملا پیوند «رح» دی د مسعودو په قوم کی یی زیات روحانی نفوذ درلود او د قوم هر لوی او واړه هغه ته احترام درلودی. نوموړی د انګریزانو سره سختی مقابلی او مبارزی کړی دی او تر ډیره وخته په قبایلی سیمو کی د انګریزانو د اقتدار د مخنیوی په مبارزه کی بوخت وو.

باری فقیر هم د وزیرستان د سیمی یو روحانی او ملی مجاهد مشر دی دی هم د سوات صاحب مرید او لومړی یی د هغه په مشری له انګریزانو سره مقابلی کولی او بیا وروسته په خپله د یوه جهادی قاید په صفت باندی په مبارزه اخته وو. نومړی په ۱۲۱۳ کی د انګریزانو لخوا شهید شو. او په سپین وام کی خاورو ته وسپارل شو، ویل کیږی چی د ځنکندن پر وخت یی وویل چی د لوی خدای «ج» شکر دی چی زما غوندی فقیر په لاس یی هم ډیری ډیرش لوړ رتبه انګریزان ووژل. مولانا ګلاب الدین چی د وزیرو د ملا صاحب په نامه یی زیات شهرت درلود ډیر متقی او مجاهد سړی وو نوموړی خپل ټول طالبان او متعلقین د انګریزانو سره د جهاد لپاره راوپارول او په اخیر کی د انګریزانو لخوا په شهادت ورسیدی.

مولانا همت الله هم یو ډیر جید عالم او ستر مبارز وو هغه د مولانا ګلاب الدین له شهادت وروسته د وزیرو د مجاهدینو مشری په غاړه لرله او د خپلو شاګردانو ملا ارکړ او کاکا صاحب په ملتیا یی ډیری غزاګانی کړی دی کاکا صاحب شهید هم د وزیرستان له ملی او تکړه مجاهدینو څخه وو ډیر طالبان او مریدان یی لرل. د وانه او دیره اسماعیل خان په مینځ کی چی کوم جنګونه تر سره شوی په ټولو کی یی ګډون درلودی. دی د وانه په تعرض کی چی اته ورځی یی دوام درلود سخت ټپی شو او له څو ورځو وروسته د جمادی الاول په میاشت ۱۲۱۲ هـ ق کی په شهادت ورسیدی. د اکا خیلو ملا صاحب هم ډیر شهرت لری او زیاتی غزاګانی یی کړی دی ملا حاجی محمد وزیر هم ډیر تکړه او زړور عالم و زیاتی مبارزی یی کړی دی دده دوه ورونه ملا محمد سلام او ملا ګل سلام دواړه د انګریزانو لخوا په شهادت ورسیدل.

د مسعود او وزیرو په ټولو جهادو کی ملګری وو او په پای کی په شهادت ورسیدی

سنډاکی بابا هم زمونږ د ډیرو جیدو او تکړه علماو له جملی څخه دی.

د سنډاکی بابا صاحب د چکیسر د منطقی اوسیدونکی وو. ده د انګریزانو په مقابل کی د هغی سیمی له خلکو یوه لویه جرګه جوړه کړه او خپل طالبان مریدان او نور ملی خلک یی جهاد ته هم تیار کړل، نوموړی د هند د آزادی غوښتونکی لوی عالم او مجاهد مولانا محمود الحسن دیوبندی سره هم نږدی اړیکی لرل او د ترابلس په غزا کی یی د شیخ السنوسی په ملتیا ډیری غزاګانی وکړی، نومړی په باجوړ کی د انګریزانو خلاف سخته مبارزه وکړه د ده نږدی ملګری د ترنګزو حاجی صاحب د باېړی ملا صاحب د الینګار فقیر صاحب سید معروف خان پاچا د کیندری حکیم صاحب مولوی صاحب فضل الدین کابلی ملا صاحب او نور زیات شمیر مجاهدینو د جمعیت الاحرار په نامه یو تنظیم هم درلود چی د انګریزانو څخه یی د ازادی لپاره کار کاوه.

د باېړی ملا صاحب چی اصلی نوم یی سید امیر وو جید عالم او د هډی د نجم الدین اخند زاده صاحب خلیفه وو او ډیر جهاد ونه یی کړی ده مشهوره غزا د سکوډیری ده چی ټول انګریزان یی په هیبت کی اچولی وو.

مولوی صاحب میراجان کاکا خیل هم یو جید عالم او تکړه مجاهد و نوموړی نړیوال شهرت لرل نوموړی په استرالیا کی ژوند کاوه او هلته یی د انګریزانو خلاف فعالیت درلود د انګریزانو خلاف د سیاسی فعالیت لپاره امریکا، جاپان او نورو هیوادو ته تللی دی، او هلته یی انګریزان د ... په تشویش کی اچولی وو وروسته تیراه ته راغی ... سلی جهـ ... یی پیل کړ او ډیری غزاوی یی وکړی. ... خو په ... کی د ... ځینی یی وفا ملګرو ... څوا ... جطبی ... کی انګریزانو ته پلاس ... کړ ... او بیا یی هیڅ درک نه شو معلوم.

مولینا سیف الرحمن هم زمونږ یو ډیر جید او مشهور عالم دی د انګریزانو سره یی په هند کی کله چی نوموړی د فتح پوری د مدرسی مهتمم وو مبارزه پیل کړه. دی د مولانا رشید احمد ګنګوهی شاګرد او په سیاسی مبارزه کی د شیخ الهند مولانا محمود الحسن سره نږدی ملګری او د هغه لخوا یی په افغانستان کی د حکومت توجه د انګریزانو مخالفت ته راواړوله. دی په هند کی د انګریزانو لخوا تر فشار لاندی راوستل شو او وروسته د سوات بونیر او باجوړ له لاری افغانستان ته راغی او دلته یی د انګریزانو پر ضد مبارزه تیزه کړه.

زمونږ د علماو یوه بله مشهوره استعمار ضد څېره ملا حاجی فضل واحد «رح» دی چی د ترنګزو په حاجی صاحب مشهور ده او د انګریزانو په مقابل کی د خپلی مبارزی په وجه نړیوال شهرت لری، نوموړی د ابوبکر اخند زاده صاحب شاګرد او د هډی د ملا صاحب خلیفه وو، د ترنګزو حاجی صاحب د ملکنډ په غزا کی ګډون درلود او په ۱۹۰۱ کی د نجم الدین اخند زاده صاحب علیه رحمة د خلف په صفت د مجاهدینو مشر وټاکل شو نوموړی د افغانستان د استقلال په جهاد کی د ډیرو مهمندو په مشری پر ډکی باندی حمله وکړه نوموړی په ملکنډ کی د انګریزانو په ضد ډیر سخت جنګرنه وکړل او د انګریزانو ټول پلټن یی ورتباه کړ او بالاخره د انګریزان وسولی ته مجبوره کړل نوموړی د هند د آزادی د غورځنګ مشر شیخ الهند محمود الحسن صاحب سره ټینګ ارتباط درلود او د هغه په لارښونه یی ډیره مبارزه کړی نوموړی د خپل پروګرام له مخی ډیری دینی مدرسی هم جوړی کړی تر څو خلک په دین پوه **او د جهاد لپاره آماده شی. مشهوره مدرسی یی (کډی) اتمانزو او حمزا خان مدرسی دی چی ډیرو طالبانو استفاده ورڅخه کړی ده.**

دغه راز یو شمیر نور علما چی ډیر مشهور **دی او ډیری مبارزی یی کړی دی لکه مولوی فضل ربی، مولانا فضل محمود حنفی، مولانا منصور انصاری، قاضی صاحب هیبت شاه د الینګار فقیر صاحب، داپیی فقیر صاحب د لنډورو پیر صاحب، مولوی عبدالخلیل او نور په زرهاو علما چی په ملی کیسو کی** یی اوس هم خلک یادوی او آثار تری پاتی دی.

پاتې لری

پردي لمن

محمد رفیق «عزت»

نن بیا مي د غزل د ښاپیرۍ لمن نیولي
په مینه د ګلاب مي د غوټۍ لمن نیولي
دا ساز او دغه جاز مي په مغزو کي اثر نه کړي
په مینه افغاني مي د شپېلۍ لمن نیولي
دا د ښتي اخیر ولي داسي سري زرغوني نه شي ؟
همیش بي په منګولو د کوچۍ لمن نیولي
دا سترګي په همیش داسي مغرور شانتي ځلیږي
په تنده د اسمان یي د سپوږمۍ لمن نیولي
«عزته» ځنګه ورك شول لا ورکیږي ورته ګوره
هرچا چي په پردو وعدو پردۍ لمن نیولي

در حجر الاسود مالیدم !

شاعري مهمل گوي پیش دوستان مي گفت :
چون به خانهء کعبه رسیدم دیوان شعر خود را براي تیمن و تبرك در حجر الاسود مالیدم !
دوستان فرمودند : اگر در آب زمزم مالیدي بهتر بودي!
(لطایف الطوائف)

د شعر او ادب

متوکل و عباد

روزي متوکل خلیفه عباسی به اهل مجلس خود گفت :
چون ابوبکر «رض» به خلافت رسید از پایه منبري که پیامبر «صع» مي نشست یك پایه پائین تر نشست. چون حضرت عمر «رض» خلیفه شد از پایه ابوبکر «رض» یك پایه پایین تر نشست اما چون خلافت به حضرت عثمان «رض» رسید مقام پیامبر «ص» و خلفاي سلف خویش را گذاشت و بالاي منبر رفت و از همه بالاتر نشست . بنظر شما درین کار حکمتي بود ؟
عباد که یکي از ظرفا و ندماي مجلس خلیفه بود در جواب گفت :
اگر عثمان «رض» این کار را نمي کرد و قرار بر این مي بود که هر خلیفه و امیر یك پایه پائین تر از مرتبهء امیر قبلي بر منبر نشیند امروز بر شما لازم بود تا از ته چاه براي مردم وعظ نمایید و خطبه بخوانید ! چه حکمتي از این بالا تر ؟
خلیفه و حاضرین مجلس خندیدند.

سعدي، امامي و مجد همگر

مجد الدین همگر شیرازي یا مجد همگر از شعراي قرن ششم هجري است وي با سعدي معاصر بود و در مقام شعر خود را از سعدي برتر مي دانست. از زندگي وي اطلاع دقیقي در دست نیست. بعضي از اشعار و ابیات پراگنده از وي در تذکره ها ثبت است که حکایت از لطف ذوق او دارد .

امامي نیز از معاصران سعدي و مجد همگر بوده اسم اصلي وي رضي الدین ابو عبدالله محمد بن ابوبکر هر وي بود امامي در عهد خود مورد احترام شاعران و استادان بوده در غزلسرایي سخنش نیکو بود . در مدح نیز شاعري زبردست بوده است .

در مجمع الفصحا ، آمده است :
از طرف معین الدین پروانه و ملك افتخار الدین و نور الدین رصدي و شمس الدین صاحب دیوان سوال منظومي از مجد همگر شد و رأي او را در مورد فضایل شعري او و سعدي و امامي استفسار کردند.

وي در جواب گفته است :

ما گر چه به نطق طوطي خوش نفسیم
بر شکر گفته هاي سعدي مگسیم
در شیوهء شاعري به اجماع امم
هرگز من و سعدي به امامي نرسیم

امامي مجد همگر را به رباعي ذیل ستوده و جواب گفته است :

در صدد بلاغت هر چه ما دسترسیم
در عالم نظم هرچه مسیحا نفسیم
دانم که به خاك در دستور جهان
استاد زمانه مجد همگر نرسیم

لیکن سعدي رنجش خود را از این مقال درین رباعي اظهار می کند :

هر کس که به پایگاه امامي نرسد
از بخت بد و سیاهکامي نرسد
همگر که به عمر خود نکرده است نماز
آري چه عجب گر به امامي نرسد!

زره

زما زړه چه همیشه غواړي د یار زړه
ځکه شوي مي سینه کي بیقرار زړه
بي د وصل له ملهمه له جوړیږي
همي شانته بي اخیستي بوبرهار زړه
پري تیر شوي د ستم ډیر خزانونه
خداي خبر که بیرته جوړ شي په بهار زړه
په غزل مي د جهان ښکلي نه ستایم
له هر ښکلي مي لیدلي دي آزار زړه
له هر چا مي ګرانه پټ درته ساتلي
درته ځار مي شه په مینه په یار یار زړه
ملنګ دوي سترګي کچکول دي ستا وصال ته
له غوسي همي ړك لکه انار زړه

سفر نامه

از کابل تا تاشکند

دیپلماسی فعال امارت اسلامی افغانستان

در اجلاس گروه ۶+۲ منعقده تاشکند

۴

احمد ضیأ "شریفی"

افتتاح کنفرانس ۶+۲ تاشکند

بعد از احوال پرسي آقاي کریموف به جاي مخصوص خود اخذ موقع کرد و جلسه را افتتاح و بیانیه خود را این طور آغاز نمود :

تخست از همه به نمایندگي از مردم و حکومت ازبکستان مراتب امتنان و احترام خود را به اشتراك کننده گان جلسه کنوني بیان میدارم. ما امروز بخاطر اجراي یك ماموریت پر اهمیت که آن عبارت از تأمین یك صلح دوامدار در کشور رنجدیده افغانستان است، گرد هم آمده ایم. بسیار مدت مي گردد که بي ثباتي سبب جنگ داخلي در افغانستان گردیده است و این بي ثباتي تاثیر منفي بالاي سرحدات افغانستان میگذارد. جامعه بین المللي این وضع را تحمل کرده نمي تواند و بي تفاوت هم مانده نمي تواند : تروریزم، انتقال مواد مخدر و فروش سلاح هاي غیر قانوني مسایلي است که تاثیرات منفي بالاي کشور هاي هم مرز میگذارد .

حاضرین محترم!

ما باور داریم و شما هم موافقه مي نمایید که مقصد از مجلس امروزي رفع تشنجات دوامدار در افغانستان است و آرزوي عمده ما این است که افغانستان را با ثبات و صلح مشاهده نمایيم؛ ما مي خواهیم که یك حکومت وسیع البنیاد در افغانستان تشکیل گردد که این حکومت مطابق نورم هاي بین المللي تعلقات همسایگي نیك با کشور هاي همجوار داشته باشد.

جمهوري خلق چین، ایالات متحده امریکا و روسیه فدراتیف که عضویت دایمي شوراي امنیت ملل متحد را دارا مي باشند در قسمت جستجوي راه حل معضله افغانستان و آوردن یك صلح حقیقي سهم فعال گرفته مي توانند؛ من متیقن هستم که اکثر اشتراك کننده گان جلسه امروزي موافق خواهند بود که وضعیت افغانستان توسط دو قدرت تمثیل مي گردد که آن عبارت از طالبان و احمد شاه مسعود مي باشد. کسانیکه در عقب این دو قدرت هستند به این نتیجه مي رسند که راه حل منازعه، افغانها از طریق نظامي ممکن نیست؛ و آغاز مذاکرات باعث متوقف شدن خصومت ها گردیده و زمینه مفاهمه را بین قوت هاي داخلي مساعد مي سازد.

بیانیه، آقاي کریموف با استقبال گرم اشتراك کننده گان کنفرانس مواجه گردید. واقعاً جمهوري ازبکستان که زماني در تحت انقیاد اتحاد شوروي بود نظر به هر کشور دیگر، از پرابلمهاي امارت اسلامي افغانستان واقف است:- هنگامي که ارتش سرخ اتحاد شوروي میخواست زمینه حمله خود را براي تسخیر افغانستان مساعد گرداند از طریق عمال داخلي خویش منجمله گروههاي خلق و پرچم ، گروهك هاي ستمي، افغان ملت، دست به یك سلسله مقدمه چیني هاي سیاسي و استخباراتي زد که هدف آن تضعیف نیرو هاي اسلامي و ملي بود تا در فقدان نیرو هاي اسلامي و ملي، ملت افغانستان قواي مدافعوي خود را در برابر تجاوز اتحاد شوروي نداشته باشد؛ همچنان بعد از آنکه کودتاي ثور و تجاوز قشون سرخ صورت گرفت اولین فعالیتهاي ارتش سرخ و حامیان داخلي آن، از میان برداشتن نیرو هاي اسلامي و ملي در همه عرصه ها از جمله عرصه هاي دولتي و حکومتي بود که به جاي آن عمال روس جایگزین شده میرفت . تا بالاخره هنگامي که به اثر جهاد ملت غیور و متدین افغانستان قشون سرخ شکست خورد ، عمال داخلي روسها به اشاره و رهنمایي دستگاههاي استخباراتي روسها در زمان گورباچف با نیرو هاي وابسته به غرب اتحاد نموده، علیه نیرو هاي ملي توطئه نمودند و میخواستند به هر نحوي که شده است از به قدرت رسیدن نیرو هاي اسلامي و ملي و ترقیخواه جلوگیري نمایند. بنا، با حمایه تمام نیرو هاي ضد ترقي و ضد انسانیت فضاي مملو از ترور و دهشت و بي فرهنگي را در کشور پدید آوردند و به این طریق از یکطرف میخواستند آرمانهاي جهاد را زیر پا بگذارند و آنرا نام بد کنند از سوي دیگر به اسلام یك چهره ضد انساني بدهند تا کشور هاي منطقه که به جهاد افغانستان دل بسته بودند از آن وحشت پیدا کنند.

لله الحمد امارت اسلامي افغانستان از همان آغاز تشکیل خود متوجه این توطئه ها بوده در کشف و خنثي سازي آن داخل اقدام گردیده و اینك تلاش مي ورزد تا عاملین آن گرفتار و در دادگاههاي بین المللي به محاکمه کشانیده شوند که البته درین امر تمام همسایه هاي امارت اسلامي افغانستان همکاري خواهند کرد؛ بخصوص جمهوري ازبکستان میتواند نقش موثر درین امر داشته باشد. -

بعداً محترم اخضر براهیمي نماینده خاص سرمنشي ملل متحد در امور افغانستان پیام سرمنشي ملل متحد را که عنواني اجلاس گروپ ۶+۲ تحریر گردیده بود ، قرائت نمود که در قسمتي از آن چنین آمده است :

میخواهم از جلالتمآب رئیس جمهور، اسلام کریموف و حکومت ازبکستان بخاطر میزباني جلسه گروپ غیر رسمي اعضاي دول که با افغانستان سرو کار دارند و متحیث « شش جمع دو » شناخته شده است، اظهار قدرداني عمیق نمایم.

از شروع این گروپ، تقریباً دو سال قبل، گروپ هیأت انکشافي یك ستراتیژي مشترك، مخصوصاً در میان شش همسایه افغانستان، براي تخفیف تشنج و بالاخره براي حرکت بسوي حل صلحآمیز منازعه که کشور را براي ۲۰ سال متضرر ساخته است کار نموده گروپ در تلاش هایش بعضي پیشرفت ها را داشته است. در ماه اکتوبر ۱۹۹۷ دول ۶+۲ نقاط مورد بحث را در باره، مشکل افغانستان فورمولبندي نمود. در یك قدم مهم دیگر، گروپ در سطح وزراي خارجه در مقر ملل متحد بتاریخ ۲۱ سپتمبر ۱۹۹۸ جلسه را دایر نمود. در جریان این جلسه با اهمیت، که من افتخار ریاست آنرا داشتم ۶+۲ (نقاط تفاهم مشترك) را پذیرفت .

همچنان جامعه، بین المللي عمیقاً در باره، نقض حقوق بشر در افغانستان نگران میباشد. من از طالبان و دیگر گروپهاي افغاني در خواست میکنم تا حد اقل معیار هاي قانون بشري بین المللي را بشمول حقوق زنان و دختران مراعات نمایند.

پیام بعد از آنکه از تشویش موسسه ملل متحد در باره تروریزم، مواد مخدر و حقوق زنان یاد مي کند ادامه میدهد که : متوقع هستم که این جلسه در تاشکند که اولین گرد همایي گروپ ۶+۲ است که در منطقه تدویر مي یابد، بتواند بطرف اقدامات مشخص جهت کمك براي ختم جنگ درافغانستان حرکت نماید. بطور خاص، من متوقع هستم که این اجلاس نه تنها منتج بیك (اعلامیه) شود بلکه مهمتر آنکه، منتج به ستراتیژي مشترك شود که شما را اجازه بدهد تا با یك صدا حرف بزنید تا به گروپهاي افغاني و نیز به مردم افغانستان پیغام مهمي را که تعهد تمام کشور هاي شما را که بیك حل سریع صلحآمیز منازعه اظهار نماید، برسانید. من معتقد هستم که آن،، باین شکل و صرف باین شکل است که گروپ شما تأثیر مثبت بالاي وضع خواهد داشت .

فسیکه ما یکبار دیگر شاهد جنگهاي سالانه، فصل تابستان میباشیم، ضرورت به اقدامات هم آهنگ و موثر توسط ۶+۲ عاجلتر از هر وقت دیگر میباشد. هرگاه گروپ ۶+۲ نتواند که تأثیر مفید دسته جمعي خود را درین مرحله داشته باشد، تردید ها در مورد ادامه مفیدیت این گروپ ناگزیر بلند خواهد شد.

و علاوه مي کند که : در خاتمه میخواهم بهترین تمنیات خویش را براي شما بخاطر یك جلسه موفق اظهار نموده و نیز تجدید وعده نمایم که ملل متحد با همه، تان در جهت حل این منازعه کاملاً غیر ضروري کار خواهد نمود.

نیم ساعت وقفه جلسه ۶+۲

بعد از آنکه آقاي کریموف بیانیه اش را ایراد فرمود و آقاي اخضر براهیمي پیام کوفي عنان سرمنشي ملل متحد را قرائت نمود و به تعقیب آن پیام جامعه، اروپائي و رئیس جمهور جاپان قرائت گردید؛ جلسه براي نیم ساعت توقف داده شد و آقاي کریموف سالون کنفرانس را به قصد دفترش ترك نمود.

در این وقفه نیم ساعته خبرنگاران که بي صبرانه انتظار شنیدن جواب سؤالاتشان از زبان هیأت امارت اسلامي بودند با یك سرعت زیاد به چهار طرف هیأت هجوم آوردند. و هر یك سؤال خود را از متقي صاحب و زاهد صاحب طرح مي نمود. بدون مبالغه باید گفت که در حدود ۲۰ الی ۲۵ خبرنگار رادیو تلویزیون ، آژانس ، روزنامه، مجله و... به اطراف ما جمع گردیده بودند.

یکي از خبرنگاران از متقي صاحب پرسید: آیا کنفرانس امروز کشور هاي ۶+۲ نتیجه خواهد داد ؟ متقي صاحب در جواب گفت : اگر حقایق بیان گردد و به آن همه اشتراك کننده گان عمل نمایند طبعاً بي نتیجه نخواهد ماند.

متقي صاحب در پاسخ به یك سؤال دیگر که شما در عشق آباد با مخالفین مذاکره نمودید ولي نتیجه نداد چرا ؟ چنین گفت : ما خلاف مذاکرات عشق آباد عمل نکردیم بلکه مذاکرات از طرف مخالفین نقض گردیده است و این سؤال را از آنها نمایید.

متقي صاحب به یك تعداد زیاد سؤالات خبرنگاران که به ارتباط جلسه ۶+۲ و خارج از آن بود جوابات قناعت بخش ارائه نمود.

خبرنگاران زیاد بود و سؤالات زیاد طرح مي نمودند ولي متقي صاحب به من اشاره نمود که از خبرنگاران معذرت بخواهم که دیگر مزاحم نشوند و گفت موقع خوب است که با یکتعداد از هیأت هاي عالیرتبه کشور هاي ۶+۲ در این فرصت مناسب ببنیم و صحبت بکنیم. همه موافقه نمودیم.

اولاً با معین وزارت خارجه چین دیدیم . معین وزارت خارجه چین که چندي قبل به ریاست وي یك هیأت از وزارت خارجه چین و یك تعداد دیپلومات هاي آن کشور در اسلام آباد، به کابل سفر داشتند و من وي را در کابل دیده بودم رو به طرف متقي صاحب نموده گفت:

خیلي خوشوقت هستم که شما را اینجا مي بینم و این بسیار یك موقع مناسب است که شما نظرات تان را در این کنفرانس اظهار مي نمایید. متقي صاحب هم متقابلاً گفتند جاي بسیار شادماني است که شما را هم در این کنفرانس مي بینم و از تلاش هاي شما در جهت آوردن صلح در افغانستان اظهار تشکر مي نمایم. امیدوار هستم که روابط ما و شما گسترش یابد و دیدو بازدید هایي در کابل و بیجنگ داشته باشیم.

بعداً با معین وزارت خارجه ایران که موقعیت آنها در پهلوي چین بود دیدیم. متقي صاحب براي معین وزارت خارجه ایران گفت: ما خیلي خوشحال هستیم که شما را در این جا ملاقات مي نمایيم .

معین وزارت خارجه ایران ضمن قدرداني از اشتراك هیأت امارت اسلامي افغانستان در کنفرانس ۶+۲ گفت: ما امیدوار هستیم که جنگ و خونریزي در افغانستان قطع گردد و مشکل افغانستان حل شود .

متقي صاحب گفت : امام خمیني گفته بود نه شرق مي خواهم نه غرب ما در افغانستان خواهان حکومت اسلامي مي باشیم . و اینك حکومت اسلامي در افغانستان تأسیس گردیده است و باید این حکومت اسلامي تقویه گردیده و با آن مخالفت صورت نگیرد .

معین وزارت خارجه ایران گفت : ما خواهان روابط نیك و برادرانه با افغانستان هستیم ولي مشروط بر اینکه موضوع قتل دیپلومات هاي ما که عنقریب ما در آستانه سالگرد آن هستیم حل گردد.

متقي صاحب در جواب گفت: ما از قتل دیپلوماتهاي ایراني در مزار شریف خیلي خفه هستیم و در همان روز عالیقدر امیر المومنین در زمینه اظهار تأثر نموده . در این رابطه تحقیقات صورت گرفت و در قسمت پیدا نمودن عاملین آن حادثه دلخراش کوشش کردیم.

از صحبت هاي متقي صاحب و معین وزارت خارجه ایران پیدا بود که هر دو خواهان مناسبات نیك با هم اند.

ادامه دارد

د کابل د وړیو اوبدلو فابریکې ماشینونه بیا ...

شاپونو مشتمله ده چې په لاندې توګه معرفي کیږي :

۱- د وړیو وینځلو او سرت دستګاه چې یوه پایه د خاورو ځنډولو ماشین، شپږ د وړیو **وینځلو حوضونه او یو د وړیو وچولو ماشین لري .**

۲- د تارجوړولو دستګاه چې په شل پابو ماشینونو مشتمله ده .

۳- د اوبدلو دستګاه چې ۵۸ ماشینونه لري .

٤- د رنګولو دستګاه همدارنګه باید ووایو چې د فابریکې د ماشینو لپاره یوه فعاله تخنیکي دستګاه هم وه چې د فابریکې ډول ډول پرزه جات پکې جوړیدل دیادولو وړ ده چې نوموړې فابریکه د تیرو خپل منځي جګړو له کبله له کال ۱۳۷۱ را په دیخوا زیاته زیانمنه او له فعالیت څخه ولویده چې الحمد لله د اسلامي امارت د واکمنې په ټینګیدو سره د کانو او صنایعو وزارت د محترم مشر تابه د زیاتي توجه په اساس د فابریکې د بیا رغوني کارونه شروع او په چټکه روان دي چې انشاء الله ډیر ژر به د فعالیت لپاره اماده شي.

همدارنګه د څرخي پله د وړیو اوبدلو فابریکې له مسوول څخه مو وپوښتل چې اوس مو کوم کارونه پیل کړیدي نوموړي راته وویل د اسلامي امارت د واکمنې د ټینګیدو را پدیخوا مولاندې کارونه د فابریکې د بیا رغوني په هکله تر سره کړیدي.

- یو محراب مسجد تر اعمار لاندې دي

- د فابریکې چتونه مو پوښ کړل .

- د فابریکې د ټولو ماشینونو عوارض مو په پوره توګه نیولي.

- په نیژدې راتلونکې کې به د اته کیلو مترو په مسافه د برق مزي تمدید کړو د یادولو وړ ده چې د برق د راتلو څخه وروسته به زمونږ د فابریکې ټول ماشینونه په فعالیت پیل وکړي .

محترم ملا فضل الربي د فابریکې د تولیداتو په هکله راته وویل : د نوموړې فابریکې تولیدات عبارت دي له رنګه او ساده غالیو کمپل، عسکري تکې او د وړیو نخ اوبدل دي چې د هیوادوالو اکثره احتیاجات پوره کولای شي.

د عامه کتابتون رئیس له شریعت ...

ځواب: په عامه کتابتون کې لاندې څانګې لرو دافغانستان پیژندنې کتابتون،عربي کتابتون، اود کوچنیانو کتابتون، چې په عمومي توګه بولك ۱۰۰۰۰۰ ټوکه کتابونه لرو.

پوښتنه : په ولایاتو کې اړوندې څوکتابخاني لري؟

ځواب: ستاسي دپوښتنې ترځواب مخکې بایدووایم چې موږ په کابل کې هم حوفعالې کتابخانې لرو دخیرخانې کتابخانه، د قلعه فتح الله کتابخانه، اودمکروریانو کتابخانه چې داسلامي امارت په بریالیتوب سره بې بیرته په فعالیت پیل کړي دي اوجهادي کتابون چې هغه هم د اسلامي امارت په راتګ سره تاسیس شویدي چې برسیره په جهادي کتابونو نور کتابونه هم په خورا لوړه کچه پکې راټول شوي اوراټولیږي همدارازد میرویس کتابتون چې ډیر زیان بې لیدلی سوو، په نظرکې لرو چې په نیږدې راتلونکي کې بې بیرته ودان او د لوستونکو پرمخ پرانیزو.

پوښتنه : دمعلوماتو له مخې تاسوغواړي د څرخي پله په زندان کې یوه کتابخانه جوړه کړي که دهغې په اړه معلومات راکړي؟

ځواب : هو ! موږدانکل کړي دي اوانشا الله ډیرژربه دڅرخي پله په زندان کې یو مجهزکتابتون پرانیزو.

پوښتنه : لوستونکي په کومو شرایطوله کتابو څخه ګټه اخستلای شي؟

ځواب په کتابتون کې د ننه هیڅ قیودات نشته او کله یې چې له څانه سره وړې ترمکملې پیژندنې اوځینو ضمانتونو ورسته هغوي ته کتابونه ورکول کیږي

پوښتنه : په تیرو جنګونو کې دکابل عامه کتابتو ن ته څومره زیان رسیدلی دي ؟

ځواب: له ذکرشویو کتابخانونه په زرهاو کتابونه چوراو سوځول شوي همدارنګه کتابتون دجګړې سنګر ګرځیدلی وو او په نتیجه کې دکتابتون ودانې هم زیانمنه شوي ده

پوښتنه: تیرې ورانې مو څومره جبران کړې دي؟

ځواب : هغه کتابونه چې دلوټمارو له خوا په ښار کې پلورل شوي و هغه بیرته د کتابخانې لخوا واخستل شول همدارنګه د کتابخانې تعمیرچې ډیر زیانمن شوي و اوس ترډیر د حده ترمیم شوي دي.بایدیادونه وکړم د کتاب مجله چې د عامه کتابتون لخواخپریده اوله ډیرې مودې راپدې خوا نه وه خپره شوي د اسلامي امارت په راتګ سره یو ځل بیادګرانو لوستونکو مخې ته وړاندې شوه چې تر اتمې ګڼې پورې تراوسه چاپ شوي ده.

په پاي کې له ټولو لیکوالانو په ځانګړې توګه د قلم خاوندانو څخه هیله کوم چې له خپلو اثارو څخه یوه یوه نمونه عامه کتابتون ته راولیږي ترڅوله یوې خوا ددوې آثارګران هیوادوال ولولي اوګټه ځینې واخلي اوله بلې خوا د هیواد کتابتونونه په افغاني فرهنګ بډاي اوښکلي شي .

محمد رفیق «عزت»

پیښې او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

له مخدره موادو نه استفادې سکاټلنډي تنکي ځوانان ګوابنولي او کورنې یې اندیښمنې کړې دي

له مخدره موادونه استفادې سکاټلنډي تنکي ځوانان ګوابنولي او کورنې یې اندیښمنې کړیدي په سکاټلنډ کې د طبي علومو څیړونکو د هغې رواني څیړنې په نتیجه کې چې د نیشه یې موادو د استعمالولو له امله ناروغي پیدا شوي دي رپوټ ورکوي چې په سکاټلنډ کې له دیارلس کلنې نه تر نهه کلنې پورې ماشومان په ډیره عادي توګه مخدره موادو ته مخه کړیده . څیړونکي دي نتیجې ته رسیدلي دي چې د ماشومانو ددغه انتخاب علت او انګیزه دوستان د کورنیو غړي او په تیره بیا هغه کورنې دي چې د کورنیو د ټولنیزو اخلاقو او عنعنوي ضوابطو د نه رعایتولو له په پام کې نیولو سره دغه ګډوډي پیدا کوي او د دوي ماشومان او تنکي ځوانان له منځه وړي . په سکاټلنډ کې پوهو منابعو دولت ته پیشنهاد کړیدي چې داسې طرحې نافذې کړې چې مخدره موادو ته د ماشومانو ددغه تمایل مخه ونیول شي او د هغو د پراختیا مخنیوي وشي.

افراط و تفریط در زندگي روزمره ، مردم اروپا و امریکا را به جان هم انداخته اند

افراط و تفریط در زندگي روزمره اجتماعي و اقتصادي اکثر مردم اروپا و امریکا را به جان هم انداخته و فجایعي را به بار آورده است در ایالت ماسو چوست امریکا تعدادي از مردم فقیر و بینوا که نان شبا روز شانرا به بسیار زحمت پیدا مي کردند در یکي از محافل خوشي و سرور بجان اعضاي فامیلي افتادند که محله مسکوني آن ها در جوار منزل شان زیست مي کردند پولیس محل گفت،بادیه نشینان فقیر در یك محفل رقص و شرابخوري به لت و کوب افرادي پرداختند که از فرط غنا و توانمندي اقتصادي همه روزه اینگونه محافل را بر پا مي کردند و بساط عیش و عشرت شانرا هموار مي کردند در اثر بجان افتیدن دو طبقه در سطح از هم متفاوت چندین واقعه از قبیل لت خوردن مجروح شدن کیسه بري، سرقت جواهرات و هم اهانت زنهاي حاضر محفل رویداد که پولیس را مجبور به مداخله ساخت . افراد بي بضاعت شکایت نمودند که آن ها گرسنه و تشنه اند و فامیل هاي مست شکوه داشتند که غربا،مزاحم رقص و پایکوبي آنها شده اند محافل مطلع مي گویند سطح افراط و تفریط در زنده گي اجتماعي و اقتصادي کشور هاي اروپایي و امریکایي بر حدي از هم متفاوت است که نه تنها موجب شگفت افراد جامعه بلکه باعث بروز خشم و غضب عده بي بیشماري گردیده است که واقعه در ماسا چوست امریکا ناشي از آن است .

پنځه جریبه ځمکه ...

ولسوالیو له مربوطاتو نه کشف او تر لاسه شوي و پرون پداسي حال کې چې د خوست ولایت مرستیال محترم قاري عبدالباري عابد او ددغه ولایت یو شمیر چارواکي او ګڼ شمیر خلك حاضر و په عام محضر کې وسوزول شول او له منځه یوړل شول .

در وزارت شهداو ...

میشود.

طبق یك خبر دیگر کورس مقدماتي اساسات اداره و ارتقاي سطح دانش مسلکي و بهبود کار و اجراآت بهتر امور در ریاست عمومي کار و امور اجتماعي دیروز تدویر یافت . محترم الحاج مولوي مخدوم عبدالسلام «سعادت» رئیس عمومي کار و امور اجتماعي ضمن صحبت در رابطه به ارزشمندي چنین کورسهاي، شاملین کورس، به وظایف و مسؤولیت هاي شان متوجه نمود .

کورس متذکره براي ده یوم ادامه داشته و قرار است چنین کورسها در ولایات کشور نیز دایر گردد.

د هلمند په ولایت کې ...

همدې امله جوړه شوي وه وېناوالو د اخلاقي مفاسدو د مخنیوي او له جنایت او ټولنیزو ظلمونو نه د خلاصي ټولني د جوړولو په لاره کې د الهي حکمونو د تطبیق د رول په باره کې خبرې وکړې او په جنایت کارانو باندې یې د الهي حکمونو عملي کول د اخلاقي مفاسدو د مخنیوي ډیره ستره وسیله وبلله .

د تاله او برفك ...

موسسې په همکارۍ پیل شوي و بشپړ او د استفادې وړ وګرځیدل.

یوه مربوط خبرځاي وویل د تاله او برفك ولسوالي د کانالونو او سیلبرونو د کېندنې او پاکولو کار چې یوه میاشت مخکې پیل شوی و په همدې موده کې د اته زره څلور سوه مکعب متره په اوږدوالي او حجم سیلبرونه ترمیم او پاك شویدي

دغه راز د تاله او برفك ولسوالي د ایشوك د سیمې سیفون هم د دوه ویشتو مترو په اوږدوالي او د یو سلو دوو مکعب مترو په حجم په پاخه او اساسي دول جوړ شویدي چې د هغه په جوړیدو سره دوه زره جریبه زراعتي ځمکه خړوبیږي .

د یو بل خبر له مخې د بغلان ولایت د پلخمرې ښار ملکي روغتون چې یو څه زیانمن شوي و د پلخمرې ښار د غیر الکولي مشروباتو او د کنګل جوړونې د شرکتونو په مرسته د پنځه دیرشو ملیونو افغانیو په لګښت ترمیم او رنګ شویدي.

د آي. سي. آر. سي ...

موضوعګانو په باب خبرې اترې وشوې د آي.سي.آر.سي کمیټې د بشري مرستو ناظم داو ورکې چې د کرنې وزارت له طرحو او پروګرامونو سره جوخت د کرنې او مالدارۍ په بیلا بیلو برخو کې د ګډو پروګرامونو په طرحه کولو او عملي کولو کې د کرنې له وزارت سره همکاري کوي .

د آریانا د فوتبال ټیم ...

د فتبال ټیم د ۱٦ امتیازونو په لرلو سره لومړې مقام د خراسان د فتبال ټیم د شپږو امتیازونو په لرلو سره دویم مقام او د باختر د فتبال ټیم د دریو امتیازونو په تر لاسه کولو سره دریم مقام وګاټه .

ددغه ورزشي تورنمنت په پاي کې د سرپل ولایت د مرستیال محترم ملا امان الله لخوا برابر شوي سوغاتونه او کپونه په ممتازو ورزشکارانو او ګټونکو ټیمونو باندې وویشل شول.

د خیرخانې مینې د ولس ...

بشر دوستانه هدفونو له مخې چې د هیواد د ترقي او پرمختګ په لاره کې بې لرې په دې وروستیو وختو کې د کابل ښاروالي د پنځلسمې ناحیې مربوط د خیرخانې مینې په دریمه برخه کې پنځه ویشت ځاګانې کیندل شویدي او ددغې ناحیې د ولسو زرو تنو اوسیدونکو ته د څښاك روغتیایي اوبه برابرې شویدي.

دغه ځاګانې د آی. سی. آر . سی کمیټې په مالي مرسته د پنځلسمې ناحیې د محترمو چارواکو په پاملرنه او د سیمې د خلکو په همکاري د دري سوه ملیونو افغانیو په ټول لګښت ددغې کمیټې د فني او تخنیکي پرسونل لخوا کیندل شوي او په لاسي پمپونو سمبالي شوي دي.

طي جلسه کمیسیون ثبت ...

مجدد اسد الله سخي مؤسسه خدماتي و ساختماني انجنیر صفت الله، مؤسسه خدماتي ملي خیر اندیش، مؤسسه خیریه کمك آب براي افغانستان، مؤسسه احیا و باز سازي جواد ، د افغانستان د بیا ودانولو ټولنه و موسسه باز سازي و انکشافي آخندزاده اجازه فعالیت داده شده و از مسؤولین موسسات متذکره تقاضا گردید تا در جهت خدمت به هموطنان خویش بذل توجه نمایند.

رئیس جمهور قرغزستان ...

دولت ازبکستان بوده است .

این گروه ها تا کنون چهار قصبه را به تصرف آورده و چندین نفر از جمله معاون وزارت داخله، چهار جاپاني و چند تبعه قرغزستان را گروگان گرفته اند.

به تعقیب بحران گروگان گیري در قرغزستان مقامات بلند پایه امنیتي آنکشور ازبکستان ، قزاقستان و تاجکستان دیروز در شهر هوش قرغزستان گرد هم آمده اند بحران جنوب قرغزستان را بررسي کنند.

کالبرت نماینده ...

وظیفه میسر نباشد آنها به وطن شان باز نخواهند گشت از نظر سازمان ملل متحد صربستان جهت بازگشت به آواره گان آن جمهوریت درنتیجه مشکلات اقتصادي به بیست تا بیست و پنج سال وقت نیاز دارد.

وي اظهار کرده است در جمهوریت صربستان سازمانهاي جنایي توسعه یافته است این اعضاي حزب حاکم سوسیالست هستند که مسؤولیت این عواقب را به عهده دارد.

د روسیې د جمهور ...

وکړي.

د یو. اس. آي تو دې ورځپاڼې د خبر له مخې د روسیې د دولت په یو شمیر پخوانیو او اوسنیو استازو او دغه راز د روسیې د جمهور رئیس بوریس یلتسین په دفتر باندې تور لګول شویدي چې د نړیوال وجهي صندوق له پیسو نه لس ملیارد دالره د ځان په ګټه د نیو یارك په بانکونو کې په خپل حساب تحویل کړیدي.

نړیوال وجهي صندوق البته تر اوسه پورې ددغه تور په باب کوم ثبوت په لاس کې نه لري خو څیړنې همانغه شان دوام لري.

د بانك اف نیویارك په نامه امریکا یې بانك په دې اړه خپل دوه تنه لوړ رتبه کار کوونکي له دندونه ګوښه کړیدي.

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
	د ګڼون بیه له هیواد نه بهر	
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

آسیاي میانه و بحران تازه

از چندي به اینطرف وقایعي که از قفقاز تا آسیاي میانه اتفاق افتاده نظر ها را بخویش معطوف داشته است، هنوز شعله هاي جنگ در داغستان فروکش نکرده بود که خبر از اشغال چندین دهکده در جمهوري قرغیزستان بوسیله افراد مسلح که گفته میشود شورشیان مسلمان اند رسید، چنین بنظر مي رسد که شورشیان مسلمان درین مناطق سابقاً تحت سیطره شوروي ، تحرکات خویش را وسعت مي بخشند، و همین موضوع موجب تشویش رژیم هاي حاکم بر این جمهوریهاست حمله افراد مسلح از طریق مرز تاجکستان به جمهوري قرغیزستان بیش از خود قرغیزستان در جمهوري ازبکستان موجب نگراني و هراس گردیده است زیرا گفته مي شود که این افراد مسلح وابسته به نهضت اسلامي در ازبکستان اند به همین علت جمهوري ازبکستان از اولین کشور هایي بود که براي کمك نظامي به قرغیزستان اعلام آماده گي نمود ، اگر با ریشه هاي این بحران را که آسیاي میانه اکنون با آن دست به گریبان است بدقت مورد ارزیابي قرار دهیم به این نتیجه مي رسیم که کانون اصلي بحران درین ناحیه جمهوري تاجکستان است. زخمي که بعد از فروپاشي اتحاد شوروي بر پیکر آسیاي میانه وارد آمد نخست از همه تاجکستان را غرق خون ساخت و این بخاطري بود که هم روسیه وهم جمهوري هاي همجوار تاجکستان از بر قراري یك نظام اسلامي در تاجکستان احساس ترس مي کردند . جنگ داخلي و خونین تاجکستان سر انجام به بر قراري یك مصالحه ملي انجامید. رحمانوف از روي ناچاري مخالفین پیشین خود را در قدرت سهیم ساخت ، پروسه **خلع سلاح و ادغام افراد مسلح مخالفین در نیرو هاي مسلح تاجکستان جنبه عملي بخود گرفت .**

در میان افراد مسلح نهضت اسلامي تاجکستان مجاهدیني از سایر جمهوري هاي آسیاي میانه مخصوصاً ازبکستان هم حضور داشتند. جریان مصالحه ملي در تاجکستان مورد تائید مقامات جمهوري ازبکستان نبود. آنها طرفدار آن بودند تا در برابر مسلمانان در تاجکستان از شدت عمل کار گرفته شده و آنها سر کوب گردند نه اینکه با مشارکت آنان در قدرت دولتي زمینه براي تشویق مسلمانان انقلابي در سایر جمهوري هاي مسلمان نشین آسیاي میانه مساعد گردد.

از آنجا که جمهوري تاجکستان یکي از جمهوري هاي فقیر اتحاد شوروي سابق و از نظر مساحت نیز کوچك است رحمانوف و هوادارانش مي دانستند که جنگ با مسلمانان براي آنان پیروزي بدنبال نخواهد داشت ولي با مشارکت مسلمانان در قدرت لا اقل میتواند آنانرا از مخاصمت و دشمني مسلحانه با رژیم باز دارد در حقیقت رحمانوف با این اقدام خصومت مسلحانه را به رقابت سیاسي در چهار چوب قانون مبدل کرد .

در مقابل جمهوري ازبکستان با حمایت مخالفین رژیم رحمانوف و حتي وادار کردن آنان به حمله به منطقه (خجند) خواست تاجکستان را تحت فشار قرار دهد . این وضع به سردي بیشتر روابط میان دو کشور انجامید.

اکنون که قرار بر این است تا مخالفین مسلح وابسته به نهضت اسلامي تاجکستان بصورت کامل سلاحهاي خود را تحویل دهند آندسته از مجاهدیني که از جمهوریهاي دیگر آسیاي میانه به تاجکستان آمده بودند نقطه ضعف این حلقه یعني جمهوري قرغیزستان را براي فعالیت بر گزیده اند.

قرغیزستان یك جمهوري فقیر در قطار کشور هاي آسیاي میانه است که بعلت کوهستاني بودن براي جنگ چریکي بسیار مساعد است از طرف دیگر مردم این جمهوري حتي در دوره سلطه اتحاد شوروي نیز از عصیان و سرکشي علیه حکومت مرکزي ابایي نداشتند .

اگر جمهوري ازبکستان و فدراسیون روسیه به این جمهوري سر باز اعزام دارند در حقیقت خود را درگیر جنگ در منطقه بسیار نا آشنا و خطرناکي خواهند ساخت . از جانب دیگر چون خود جمهوري قرغیزستان فاقد یك نیروي نظامي قدرتمند است قواي خارجي مجبور است با ابتکار خود عمل نماید که این خود قواي خارجي را مبدل به قواي متجاوز از نظر مردم محل خواهد ساخت .

بهر حال آینده درگیري ها درین منطقه مربوط به اینست که مجاهدین تا چه حد خواهند توانست از حمایت مردم محل بر خوردار گردند از طرف دیگر این تحولات در آسیاي میانه موجب خواهد شد تا این منطقه از جهان به بازار بسیار پر منفعت براي کشور هاي [illegible] اسلحه مبدل گردد که خود مانع بسیار بزرگي در راه رشد اقتصادي [illegible] خواهد بود.

آیا بهتر [illegible] جمهوریهاي این خطه بجاي سرکوب حرکت هاي اسلامي که براي **آنان بسیار گران تمام خواهد شد سعي در ایجاد تفاهم با اتباع مسلمان خویش بنمایند؟**

از جانب دیگر این تحولات زنګ خطري براي زمامداران این جمهوریتهاست که تا کنون طالبان را خطر اصلي و مهم براي خویش مي شمردند ولي اکنون رفته رفته به اثبات مي رسد که خطر نه از جانب امارت اسلامي افغانستان بلکه از جانب عواملي است که ریشه در مشکلات داخلي خود این جمهوریها دارد .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Daulati Printing Press